دمقالې ليکونکی: ليبی ليبرال (Libby Liberal ).

سرچينه اود خپريدو نيټه : انفارميشن کليرنګ هوس . ۲۰۱۲-۱-۱

ژباړونکي : پوهندوي دوکتور سيدحسام «مل» .

---

# په عراق، افغانستان، ليبيا او اوس په ايران کی د امريکی د ګذار خونړی دړه

## America's Bloody Clipboard : Iraq,Afghanistan , libya , now Iran

دايران سره په يوه نامعلومه جګړه کي کوم چي زيات دامريکي د متحده اياﻻتو دشيطان صفت امپرياليزم اوداسرايل-امريکی دمشرتابه په يو ناسالم (له ليونتوب څخه ډ ک ) ګډ پيوستون او بسپنی پوري سره اړين بريښي د ورځی توده پيښه جوړوی .

لمړنی مطلب دادي چي د امريکي دمتحده ا ياﻻتو جمهور ريس بناغلی اوبا ما داسرايل د دولت له پامه چندان دبا ور وړ شخصيت نه راښکاري .اودبلی خوا څخه د هغه ﻻس ته راغلي راپوروتو له مخي ا وس پخپله ا سرايل تر(۲۰۰) هستوی سلاح او زروی مهما ت لري چي دهمدغي هستوی سلاحګانوپه درلودو سره ايران ته ګواښيږی اودبلي خوا څخه پردی باور لري که چيري پر ايران باندی يرغل وکړی نود امريکی متحده اياﻻت به هرو مرو له هره پلوه به دځان سره څه له نژدی اويا څه له لری واتنه ولری يعنی دامريکی متحده اياﻻت کوم چي اوس اوس د « ويکيپيديا » دراپور له مخي له (۵۰۰۰) زرو څخه زيات هستوي سرګلولی لری،تا سی به دغه دپا ملرنی وړ بين المللی(دوه ګونی معيار) کوم چي دلته په نښه شوي دی نه به مو اوريدلی وی ؟يا داچي دامريکی جګړی اوجنګونه ايا دعداﻻت ،انصاف اود واقعی منطق سره يوځای او مل وی؟ چي البته هيڅکله نه ! اوس د لته په امريکي کی داسي يورهبری د چارو مسوليت پرغاړه لری چي خپل د معا ملی طرف ته بی له دی چي پخپله په موضوع کی مستقيماً برخه واخلی ډير زيات مرسته کوی او دهيڅ شی پروا هم نه ساتي ځکه

چي په استثنای بنی سره یوه جګړه غوښتونکی مزخرف امریکایی مید یا هم دځانه سره لری .

په اوس وخت کی دامریکي متحده ایالات هر هغه څه چی په نظر کی لری ټول یی د میز پرمخ غوړولی بی له د نړیوال روغتیایی مراقبتونو اونړیوال سوله اوآرامي څخه ،اوباما دامریکی دمتحده ایالاتو جمهورریس ددی دپاره چی داسرایل رضایت او یا دهغه خوشحا لتیا ځا نته راجلب کړی، دی ته چمتو دی چی هرهغه څه چی اسرایل غواړی هغه ترسره کړی اوهم دامریکی د اقتصادی لوړتیا غوښتنی په پام کي لرلو سره غواړی چی دعربو پرتیلو باندی د خپل تسلط لړی ته دوام ورکړی اوهم په اوس موده کی دافریقی دتیلو په څاګانو اوسرچینو باندی دخپل تسلط منګولی ښخ کړي .

دا یو ناڅا پی موضوع نه دی چی د اوبا ما د د فاع وزیر ښاغلی پنیتا کوم چی معمولاً د اسرایل د ګټو دخوندی سا تلو دپا ره دا سرایلو سره وخت ناوخت ډیر دوستانه اوغیررسمی بنی سره خبری اتری کوی، او یا داچی داوباما دباندنیو چاری وزیره اغلی هیلری کلنتون کوم چی هغه مخکی له دی چی له نیویارک څخه دسناتوری دنده ترلاسه کړی ځا ن پراسرایل با ندی نه وی خرڅه کړی (هغه یعنی هیلری کلنتون نه چندان لری پخپل یو له شرمه ډکه وینا کی خپل پلوی داسرایل له خوا د فلسطین پر خمکو با ندی کوم چی په غیر قانونی توګه سره کورونه اوتعمیرونه جوړیږی اعلام کړل)اوبیاخپله اوبا ماحتی په غوړمالی بنی سره بی له دی چی د ترقی پسند و ځواکونو ملاتړ ترلاسه کړی د سولی پر موضوع باندی څه ونه وویل اوپه واقیعت کی هغه ونشو کړی چی حتی تر پنځه ډالره اعتبا ر په ستارباکس (په امریکی کی ډیر یو لوی کافی شاپ دی ) کی ترلاسه کړی اوهغه داچی دلته ممکن داسرایل د سرحداتو دستونزی مثله په مینځ کی وی کوم چی اوباما په دیر چاپلوسی اودتعظیم په وړاندی کولو سره دغه موضوع ته پخپل وینا کی (دامریکی-اسرایل دعامه اړیکو کمیټی ) اشاره وکړ، د اوبا ما هڅه اواند په دی کی دی چی دامریکی د ثنا اود کنګرس په انتخاباتو کی بریالتوب تر لاسه کړی کوم چی دهغه بریالیتوب داسرایل دپلویانو په ونډه اخستوسره ترسره کیږی یعنی داوباما د بریالیتوب د ملاتیر اسرایل پلو امریکایان جوړوی.

د افسوس اود خواشيني ځای خو دادي چي جمهوريخواهانو هغه سپين چک ( کوم چی دران پا ل « دجمهوريخواهانو کانديد د ۲۰۱۲ کال دپاره » ځانګړي کړي وه ) اسرايل ته د هغه هيواد د سيا سيي ملاتړ اود نوی محافظه کارو او د نيو ليبرالستانو ترمينځ دنا مقد س اتحاد اود ګټي دترلاسه کولو دپا ره ځانګړی کيږی ، کوم چی هغوی يعنی جمهوريخواهانو ( داسلام له ډاره بی له دی چی مذهبی با ورونه په نظر کی ونيسي خپل رغبت او ارضا د تيلو په ترلاسه کولو باندی ترسره کوی ) ته دا مهم نه دي چي دجنګ په جريان کي به څو ميلونونو انسا نا نو به په څه سرنوشت سره اخته کيږي نو دهمدی بی تفاوتي په نظر کي نيولوسره هغوی دايران سره جګړی ته وروسته دافغانستان ،عراق اوليبيا تياری اوچمتوالي نيسي ، لکه چی دويتنام دجګړی څخه وروسته دامريکايانو جنګو نه پيل کيږي ، دا پخپله په امريکي کی دانارشيزم نښی نښانی دي( کوم چی اوس نا تو ورسره مخامخ دي ) او داسي را ښکاري چي د امريکي د متحده ايالاتو دجنګي ماشين پسي يو ډله خلک ناست دی کوم چی په يوډول غيراخلاقی کرکتر اوپه روانی اختلال سره ککړ دی چی هيڅکله نه غواړی دغه ما شين ودروی اودغه احمقانه لوبي ته دپای ټکی کيږدي .

څوک کولای شي چي دغه جنګي غير اخلاقی اوپه رواني اختلال سره ککړ جنګي ماشين چلونکي ودروی؟ يواځي د «۲۰۱۲» کا ل انتخابی کانديد؟ حال داچي دامريکی دمتحده ايالاتودواړه حزبونه(دموکرات اوجمهوريخواه)دامريکی دکرغيړن امپرياليزم ديوغيرعقلانی سياست مجريان دي چی دامريکي په دننه کی هم ديولړ تشويشونو زيږندوی دي ، اوهم دتاريخی پس منظر له مخی دغه حزبونه يوډول نژادپرستانه سياستونه مخ ته بيايي .

په هرحال که چيری لنډ نظره (کوتاه بين ) امريکايی سيا ستوالو د يوی بلی جګړی سناريو (کوم چي په قوی احتمال سره به زوره وره جګړه وی ) په غير منطقی اودخودپرستي له مخي داجتماعی مالی بودجی په تنقيضولو سره پلی کړی نوهغه به د ايران سره يو ډ ير نا وړی اواحمقانه جګړه وی .

جمهوريخواهانو له خپل هغه وعدی څخه چي اسرايل ته ورکړی وه بی غير د پاول (Paul) څخه واغوښتل کوم چي په (۲۰۰۸) کی د مک کين (McCain) دخولی دلاړی د بهيد و سبب شو .

دبلی خوا څخه که چیری « اوباما » دایران سره په جګړه کی بی له دی چی داسرایل څخه شاباسی ترلاسه کړی اویا داسرایل سره دهغه دنظامی قدرت له واقیعت څخه انکار وکړی اودهغه سره پخلا شي جنګ اود جنګ میدان وګټی نو دا به اوباما وی چی له دی ګڼو شیا نو څخه کوم چی یودبل سره تړلی دی درس زده نکړی اویا عبرت وانخلی او یا له زده کړی څخه لاس پرسرشي اودهغه په بد له کی خپل قسم خوړلی د ښمنان پخپل شاوخوا راټول کړی، ما ته به د خواشیني ځای دا وی چی که چیری اوباما دمیلینونو هغو انسانانو کوم چی بی بڼو(بی پروبا ل)، په ستونزوسره ککړ اویا داچي په آسا نی سره په ستونزو باندی ککړیږی پا م وانړوی اویا داچی دامریکی د اساسي قانون څخه څارنه او ساتنه ونکړی اودخپلو خلکو له غاړی څخه د خیانت کارو لاسونه لنډ نکړی اودخپل دباور لاس پرمک کین(McCain) ، ګنګرش (Gingrich) یا حتی پر پیري (Perry) یا پالین (Palin) او یا پر ځنو نورو سیاستمدارانو کوم چی د قدرت غوښتونکی دی کش کړی پر هغو چی ډله ایز اړیکی اومیدیا په لاس کی لری اودعامه زبیښاک دپاره اولیګارشی ته لاس رسی غواړی یعنی هغسی یو غیر اخلاقی دولت کوم چی دامریکی متحده ایالات هرچیری چی وغواړی ور ولیږی اویبا په ځانګړی بڼی سره فاشیزم خواته ورتیل ووهی نو په دی صورت کی به داوبا ما یوه ډیره غټه اشتباه وی .

دیوه ښه مید یا په څنګ کی ځنی تر لاس لاندی ډله ایز ټولنیز میدیا یارسنی هم وجود لری کوم چی له حقیقت او واقیعتونوڅخه سترګی پټوی اوهیڅکله دسولی اودآرامی په اړه د قلم څوکه نه ګرځوی یعنی هڅه اواند نه کوی چی دسولی د تا مین د پا ره تبلیغات وکړی اویا ځان ته زحمت ورکړي بلکه خپل هدایت اود ستورله خپلو زورواکو بادارانواودلالانوڅخه ترلاسه کوی اودهغوپه خد مت کی وی ،همدغه میدیا دی چي مونږ په ډیرآساني سره په جګړه کی دیوبل هیواد سره کوم چی هیڅکله مودهغه هیواد سره جنګ اوجګړه نه دی کړي راښکیلوي اوحتی وروسته له پوره پوهای څخه کوم چی جنګ دهیواد په ټولو برخو کی دوام لری اویا دهغه دوام ته لمن وهی اویا بی له دی چی دولت دجګړی د دوام دپاره په تبلیغاتو لاس پوری کړی بیا هم همدغه مید یا دی چي په ډیر اسا نی سره مونږ په جګړه کی دبل هیواد سره پخپل تبلیغاتو باندی را کاږی حال داچي مونږه کولای شو چي ټول ستونزی د مذاکری له لاری حل کړو مثلاً کیدای شو

چې د پولیس داوړدی مودی د فعالیتونو په لړ کی مو اوسما بن لادن په ډیر اسانی سره په لاس راوستی وای اویا هغه مو دستګیر کړای وای اوهیڅ ضرور نه وه چې په ناسیونالیستی اومتعصب وطنپرستی اویا د صلیبی ډول جګړی په بڼه دنوموړی موضوع سره موبرخورد کړای وای.اوهیڅ لازم نه دی چې دخپل اقتصادی لوړتیا غوښتنی دپاره دا ډول میدیا په کارویسوکوم چې له حقیقت څخه سترګی پټوی اویا دعامه خلکو په سترګو کی خاوری اچوي  لکه چې په لیبیا کی له همدغه تکتیک څخه کار واخیست یعنی دامریکی متحده ایالات اود هغه انډیوال ناټو د خپل اقتصادی او نظامی لوړتیا غوښتنی په نظر کی نیولو سره پرلیبیا باندی تجاوز وکړل اودهغه هیواد حاکمیت ته درناوی ونکړل اود خپل مزدور میدیا دتبلیغاتو په واسطه سره دتجاوز زمینه پر هغه هیواد باندی مساعد وګرځول.

په دي ځو وروستیو لسیزیو کي ډله ایزرسني هیڅکله دسولي دپاره هڅه اواند نه کوی او اصلاًدهغو په ستراتیژی کي داهمیت وړ موضوع نه شمیرل کیږی بلکه دجنګ اودجګړی اودخشونت دزیږیندی دپاره نه ستړی کیدونکی ګامونه اوچتوی اوخلک دجګړی اود خشونت په لوري هڅوی یعنی دغه موجوده دبل تر لاس لاندی چوپړ میدیا یا ډله ایزرسني دویتنام دجګړي څخه وروسته په ډیر جنون آمیز بڼي سره جنګ اوجګړی ته لمن وهي د ویتنام هغه تاریخي جګړه چي په هغه کي په میلیونونو انسا نا نو خپل ژوند دلاسه ورکړل اویا معیوب اوله خپلو کورونو څخه بیځا یه اومهاجر شو اوهم دامریکي په د ننه اولوی ښارونو کی دجګړی ضد امریکا یانوپه تظاهراتو اولاریونونوباندی لاس پوري کړل او دغه ناروا جګړه یي وغند ل ، حتی تردی چې د ډله ایزو رسنیو پلاراوژورنالست ښاغلي والترکرونکیت(Walter-Cronkit)دامریکی دشیطانی هژمونی دنا وړی چلند له مخی پخپل وخت کی پرده را پورته کړ مګر سره له دی ټولوناخوالو بیا هم دغه چوپړ موجوده رسني بی له دی چې دویتنام دجګړي څخه څه عبرت ترلاسه کړای واي بیاهم په ډیر بی شرمانه اوله اخلاقه  لری دجګړي اودجنګ تبلیغات دخپل ورځني دنده ګرځولي دی کوم چې د ډیرو پام دهغو ناروا پلان ته نه دی راجلب شوی کوم چي په ډیر زیرکانه بڼی سره ډیر سیاسیي بی پلار اوبی هویت لیونی موږکان د مطبوعاتو اودهغه د کار وبار اوهغه ګټی چې ددی لاری څخه تر لاسه کوی خپل دندي ته ډیر اهمیت ورکوی

اودپیسو په بدل کی هرهغه څه چی دهغو بادارانو ورته هدایت ورکړي هغه پلی کوي ،اوس ټولو ته ښکاره دي چی مید یا په بشپړه توګه سره د پیسو په لګښت او د پوره ملاتړ پر اساس ساتل کیږی یعنی داچي میدیا دهغو په چوپړ کی دی کوم چی دهغه ملی لګښتونه برابروی.

مونږ په ریښتا چی یو فاشیستی هیواد یاستو اوکه چیری څوک غواړی چی ځما په خبروپوه شي نوپس هغه دی راته ووايي چي دامریکی دمتحده ایالاتود دواړو ګوندونو «۸۷» سناتوران ولی اود څه دپاره دوه هفتي د مخه داسي پریکړی وکړل چی دهغی له مخی امریکایا نو خپل قانونی اوحقوقي ضمانت هم دلاسه ورکړل اوهغه په دی معنی چی د خلکو ویب سایتونه اوانترنیت هم باید تر څارنی اوتر کنترول لاندی راشی تردی حده پوری خیانت اویا دی راته ووايي چي ولی ؟ په دي هیواد کی د خشونت لمن نه ټولیږي مونږغواړو چي پرایران باندي یرغل وکړو یا جنګ وتپو مګر له نظره مو ونه غورځیږی چی دنړی خلک په پوره هوښیاری سره به دامریکی ددی جنګی شیطانی هژمونیک کړیو اوحلقو په مقابل کی سره به یوځای شي اود دوی له کرغیرن تسلط څخه به ځان د تل د پاره خلاص کړي، بی دویلو دی پاتی نشي چی داځلی به مونږ هم لکه داوبو پرسر پوقانی به واوسیږو چی زر به وچوو اوهم زمونږهیواد به په ډیرنه جبرانونکی اقتصادی ستونزوسره لاس په ګریوان شی اوهم به زمونږ ډیرځوانانوخپل ژوند به دلاسه ورکړی او زمونږ (٪۹۹) خلکوچی اوس اوس هم په مختلفواجتماعی تشویشونوسره ککړ دی دهغو روانی حالات لا پسي به خراب شي .

هغه (٪۱) پاتی که دامریکی په دننه کی دی اویا د باندی هغه ډله خلک دی چی هغوی دخپل ګټی دترلاسه کولو دپاره هرډول رذالت اوخیانت کولوته چمتودي که دادخلکوپه وژنی سره تماميږی اویابل هرمصیبت چی پرخلکو باندی راشي.

دایران سره جګړه ؟ یوهم به په یواځی توبه څه شي ونشی خوړلی ! او یا څه ګټه به تر لاسه نکړي !

## پای

په درنا وی